رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر مينځه وييل. يعني "اې الله، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته روغتيا راکړه، لارښوونه راته وکړه، او روزي راکړه

له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر مينځه وييل. يعني "اې الله، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته روغتيا راکړه، لارښوونه راته وکړه، او روزي راکړه".

[د شواهدو په اعتبار حسن دی] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپل لمانځه کې د دوو سجدو تر مينځه په دغو پنځو دعاګانو سره دعا کوله چې مسلمان ورته سخته اړتيا لري او د دنيا او آخرت خير پکې دی لکه: د بخښنې غوښتل، د ګناهونو پټول او بنده ته تري تېريدل، بښپړ رحمت، له شکونو، خواهشاتو، ناروغيو او مرضونو څخه نجات، د حق لپاره له الله جل جلاله څخه مرسته غوښتل او پرې ثابت پاتې کېدل، او د ايمان، علم، نيک عمل او پاکيزه حلال مال رزق غوښتل.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10930